مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

انجنیر شیر ساپی ۲۰۲۶/۱۱/۰۳

د بلوڅ قوم سیاسي مبارزه او له ایران سره جلا ستراتیژیک برخلیک

دویمه برخه

د ایران بلوڅان، د چابهار جیو-اکانومي او د زاهدان مدني- سیاسي بهیر!

ټول تاریخي بلوچستان شاوخوا ۶۹۰,۰۰۰ کیلومتر مربع؛ دا پراخه سیمه د اوسني پاکستان (بلوچستان صوبه)، ایران (سیستان او بلوچستان ولایت) او د افغانستان ځینې سویلي برخې رانغاړي.

د ایران بلوچان په عمده توګه د سیستان او بلوچستان په ولایت کي ژوند کوي. دوی د توکمیز او مذهبي پلوه (چې اکثریت یې سني مذهب دي، د ایران د شیعه اکثریت په وړاندې) په اقلیت کي دي، او د دوی سیمه د ایران له خورا بې وزلو او کم پرمختیا سیمو څخه شمیرل کیږي .

جغرافیایي موقعیت: د ایران په سویل ختیځ کي دویم تر ټولو لوی ولایت دئ چې شاوخوا ۱۸۰،۷۲۶ مربع کیلومتره مساحت لري او د ایران ٪۱۱ خاوره جوړوي. دا ولایت ختیځ ته له پاکستان سره ۹۰۰ کیلومتره او له افغانستان سره ۳۰۰ کیلومتره ګډه پوله لري. سویل ته یې د عمان سمندر موقعیت لري .

د ایران بلوچستان طبیعي وېش: دا ولایت له دوو جلا سیمو جوړ دئ:

سیستان (شمالي برخه) : یوه هواره دښته ده چې د افغانستان پولې ته نږدې ده او د هلمند سیند پر اوبو تکیه لري (لکه د زابل سیمه).

بلوچستان (مرکزي او سویلي برخه): یوه پراخه او غرنۍ سیمه ده چې د ولایت د خاوري لویه برخه جوړوي.

پلازمینه او مهم ښارونه: د ولایت مرکز د زاهدان (Zahedan) ښار دئ. نور مهم ښارونه یې چابهار، ایرانشهر، خاش، سراوان او زابل دي .[د ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کي د ایرانشهر ښار پخوانی نوم «پَهرَه» (Pahrah) ؤ. دا ښار په تاریخي لحاظ د مکران په سیمه کي واقع دئ او په ۱۳۱۴ لمریز (۱۹۳۵ زیږدیز) کال کي د رضا شاه په امر د هغه نوم له «پهره» څخه «ایرانشهر» ته واړول شو. په لرغونو تاریخي متنونو کي دا سیمه د «پهرج» یا «فهرج» په نومونو هم یاده شوې ده].

دیموګرافي او نفوس: د وګړو شمېر، رسمي شمیرې نشته، د اټکلونو له مخې د دې ولایت نفوس د ۳.۵ څخه تر ۴ میلیونه کسانو په شاوخوا کي دي، چې د ټول بلوڅ نفوس شاوخوا ۲۰ څخه تر ۲۵ سلنه جوړوي. دا د ایران تر ټولو ځوان ولایت ګڼل کیږي، ځکه نږدې ٪۶۵ نفوس یې تر ۳۰ کلونو کم عمر لري. بلوڅان د ولایت کتلوی اکثریت شاوخوا ٪۷۰ تر ٪۷۶ جوړوي. په مذهبي لحاظ حنفي سني مسلمانان دي او په بلوچي ژبه خبرې کوی.

سیستاني فارسیوانان :په شمالي برخه (سیستان) کي اوسېږي، هغوی لږکي دي، د فارسي په سیمه ییزه لهجه غږیږی او په مذهبي لحاظ شیعه ګان دي .

د وېش مخکې طبعي او جغرافیایي ځانګړتیاوې

پرانیستي طبعي پولې: دا پراخه جغرافیا له لوېدیځه د لوط او کرمان دښتو، له ختیځه د سیند سیند دري، له شماله د هلمند سیند او هامون حوزې او له سویله د عمان سمندر (مکران ساحل) پورې په طبیعي ډول تړلې وه.

د اوبو ګډ حیاتي رګونه: د هلمند، بولان، مکران او ماشکیل سیندونه پرته له کوم اداري خنډه بهېدل. د هامون خوږو اوبو جهیل د ټولې سیمې د مالداری او کرنې د کډوالۍ یو ګډ او نښلوونکی مرکز ؤ.

طبیعي دري او دهلیزونه: د سلیمان، چاغي او د مکران مرکزي غرونه د ولسونو د جلا کولو پلمې نه وې. د بولان دره او نورې طبعي لارې د سویلي اسیا، افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ او کلتوري ادغام طبعي پلي وې.

ایکولوژیکي او مالداری ازادي: د سیمې د پښتنو او بلوڅو قبیلو ژوند پر فصلي کډوالۍ ولاړ ؤ. هغوی د کال په بېلابېلو فصلونو کي د اوبو او شنه ځړځایونو په لټه کي له کندهاره تر چابهار او له کوېټې تر زاهدان پورې ازاد تګ راتګ کاوه. هیڅا ته د پاسپورټ، ویزې یا ګمرکي محصول تصور هم نه ؤ. انګرېزانو د خپل ستراتیژیک غرض

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لپاره دا طبعي جغرافيا، د اوبو شبکي او قبيلي په دريو مصنوعي برخو ووېشلي او د سيمي طبعي اندول يې له منځه يووړ.
انساني او طبعي زيان: د ګلډسمېټ کرښې په بشپړ ډول بې رحمه او مصنوعي بڼه درلوده. دغې کرښې د بلوڅو تر ټولو لويې قبيلې، د هغوی د اوبو طبعي شبکې، د مالداری ځړځايونه او تاريخي کلي په منځ کې په دوو برخو ووېشل. د يوې کورنۍ غړي په دوو جلا هېوادونو کې ايسار شول.
د ګولډسمېډ کميسيون د بلوچستان سيمه په دوو اصلي برخو ووېشله
ايران سره يوځای کيدل: د ګولډسمېډ کرښه (Goldsmid Line) هغه تاريخي او سياسي پوله ده چې د بلوچستان پراخه جغرافيايي سيمه يې د لومړي ځل لپاره په رسمي توګه ووېشله او د اوسني ايران او پاکستان ترمنځ د رسمي سرحد بنسټ وګرځېده. د دغې پولې د ټاکلو پازوالي د برېتانوي اردو د يو افسر جنرال فرېډريک ګلډسمېټ پر غاړه وه، ځکه نو دغه کرښه د هغې په نوم نومول شوې ده.
دا وېش په ۱۸۷۱ زيږديز (۱۲۵۰ لمريز) کال کې د قاجاری ايران او د برېتانوی هند (هغه وخت پاکستان د برېتانوي هند برخه وه) ترمنځ وشو.
لوېديځ بلوچستان (سيستان او بلوچستان): دا برخه قاجاری ايران ته ورکړل شوه چې اوس د ايران يو ولايت دئ.
ختيځ بلوچستان: دا برخه د خان قلات (د بلوچستان سيمه ييز واکمن) تر اغېز لاندې او د برېتانيا تر ملاتړ لاندې راغله، چې په ۱۹۴۷ کال کې د پاکستان د جوړېدو پر مهال د دغه هېواد برخه شوه.
يادونه: *په ۱۸۹۳ کال کې د ډيورنډ کرښې په واسطه د بلوچستان يوه بله وېره برخه په شمال کې د افغانستان سره ګډ شو.*
د ګولډسمېډ کرښه د عمان له بحيرې (ګوادر او چابهار ترمنځ) څخه پيلېږي او په شمال کې د ملک سياه غره پورې غځېږي، چېرته چې د افغانستان، ايران او پاکستان ګډه سرحدي نقطه ده.
د بلوڅو وېش: يو کلتور، ژبه او ګڼ ټبرونه (قبايل) په دوو بېلابېلو هېوادونو کې سره جلا شول او کورنۍ د پولې دواړو غاړو ته پاتې شوې. [همدارنګ د ډيورنډ کرښې پېنتنو وويشل بل تکرار وو.]
د ګلډسمېټ کرښې په سيمه کې د بلوڅو د ملي يووالي احساس ته لومړنی سخت تاريخي ګوزار ورکړ. دا کرښه وروسته په ۱۹۴۷ز کال کې د پاکستان په جوړېدو سره، د ايران او پاکستان ترمنځ په رسمي نړيواله پوله بدله شوه.
د دغه وېش له عمله رامنځته شوې ستونزې او د ولسونو جلاوالی لا تر نن ورځې پورې د سيمې د وسلهوالو او مدني شخړو يو اصلي عامل ګڼل کېږی.
د انګرېزانو له استعماری وېش (ګلډسميټ ۱۸۷۱ او ډيورنډ ۱۸۹۳) څخه مخکې، د بلوچستان جغرافيا يو بشپړ، نښتی او طبعي ايکولوژيکي بلاک ؤ، چې هېڅ ډول مصنوعي کرښو او سياسي پولو وجود نه درلود.
لوېديځ بلوچستان په ۱۹۲۸ کال (۱۳۰۷ لمريز) کې د رضاشاه د پوځ لخوا د ټولو مخالفتونو له ځپلو وروسته په بشپړ ډول د ايران د مرکزی حکومت تر کنټرول لاندې راغې.
ټولنيز او د ژوند د ستايل نړدېوالی له ايرانيانو سره:
د ايران په سويل-ختيځ کې يوه ډېره پراخه او توده دښته چې د لوت دښته/ دشت لوت په نامه يادېږی، دا دښته په ځانګړی ډول د اوسني سيستان او بلوچستان جغرافيايي سيمې په شمال او لوېديځ کې د يو لوی طبيعي دېوال په څېر موقعيت لري او بلوچستان له مرکزي ايران څخه جلا کوی. همدا وچه او مړه دښته د بلوچستان طبيعي سرحدونه جوړوي چې په پخوا وختونو کې به د سختو اقليمی شرايطو له عمله د لښکرو او مهاجرتونو د مخنيوي يو کلاسيک خنډ ؤ. په ټېرو وختونو کې د يو «طبيعي ستراتيژيک دېوال» په څېر وې. د نړۍ يو له تر ټولو تودو او وچو دښتو څخه شيمرل کېږی.
د ايران بی بديله مورخ ارواح ښاد ناصر پورپيرار دا جغرافيايی موقعيت داسې بيانوي:
« در مربع عظيم و پهناور با اضلاعی به طول 800 کيلومتر بپردازم، که با برداشت‌های کنونی، ايران مرکزی خوانده می‌شود. مربعی که علی رغم گستردگی غول آسا، مورد عنايت طبيعت نبوده و نيست، نزديک به تمامی آن لم يزرع است و جز زاينده رود*، نهر بزرگ ديگری در آن جريان ندارد. در واقع موقعيت اين مربع کويری پهناور، نه فقط جذابيت طبيعی فراخوانی مهاجر به درون خويش را نداشته، بل خود اصلی‌ترين علت جدايی و انزوای اجتماعات لرزان و تازه تشکيل شده پس از اسلام، در حواشی محدوده‌ای بوده است، که اينک ايران ناميده می‌شود».
(برآمدن صفويه، بخش اول، مقدمات، ص. ۱۶، ناصر پورپيرار)
* زاينده رود: دا يو داخلي سيند دئ، يعني سمندر ته نه توپېږی؛ د دغه سيند ټول اوږدوالی نړدي ۳۶۰ تر ۴۰۰ کيلومتره دئ. د اصفهان ختيځ په پای کې د "ګاوخوني" نړيوالي جبهزار (تالاب/باتلاق) ته لوېږي او هلته پای ته رسېږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا فاکت یا حقیقت ښیي چې د بلوچ او ایران د ولسونو در منځ تاریخی او کلتوری پیوستون وجود نه درلود او نه یې لري. مګر د هند -آریایی قلابی تئوری بلوچان ژبه یوه ایرانی شاخه ګڼی.
د بلوچانو مذهب (سني اسلام)، قبایلي جوړښت (جرګې، ننګ او پت)، او سختو جغرافیایي شرایطو (غرنی او دښتي ژوند) له پلوه، له پښتنو سره ډېر زیات کلتوري ورته والی لري .د بلوځو "بلوچ مېار" د پښتنو له "پښتونولی" سره په بشپړ ډول ورته ده. په داسې حال کې چې د ایران قبایلي نظام نلري، اکثره ښاري ژوند او شیعه مذهبه دي.
ټولنیز او طبیعي وضعیت
سیاسي او امنیتي ننګوني: د بلوچستان سیمه سره له دې چې د طبیعي زیرمو (ګاز، سره زر، مس) مالکیت لري، د ایران یو له خورا بې وزلوسیمو ځخه ده. لوړ بیکاري کچه، د زیربناوو کمښت او د پاکو اوبو، زده کړې او روغتیا ته محدود لاسرسی اصلي ستونزي دي.
ډیری بلوځان ځانونه د جوړښتي تبعیض قربانیان ګڼي. د اعدام احکام د بشري حقونو سازمانونو راپورونه ښیي چې بلوځان په غیر متناسب ډول د اعدام احکامو سره مخ دي. د بیلګې په توګه، په ۲۰۲۳ کال کې شاوخوا ۱۸۴ بلوځ بندیان اعدام شول او یوازې په ۲۰۲۶ کال کې تر اګست پورې، لږ تر لږه ۲۴ بلوځان اعدام شوي دي.
مرکزي تبعیض: د ایران د حکومت لخوا په بلوچانو باندې دوه ډوله اغېز شته؛ لومړی قومي (بلوځ توب) او دویم مذهبي (سني توب). دا د دې عامل شوی چې بلوچان په حکومت کې لوړو چوکیو ته ونه رسیږي.
امنیتي وضعیت: د سپاه پاسداران په سیمه کې سخت پوځي کنټرول لري. په دغه ایالت کې د حکومت ضد د ننه سیاسي بې ثباتي او د "جیش العدل" په ځېر د بلوځو وسله والو ډلو چریکي بریدونه وخت ناوخته رامنځته کېږي. د ۲۰۲۲ کال د زاهدان د "خونړۍ جمعې" پېښې د خلکو او نظام ترمنځ د کړکېچ اوج ښکاره کړ .
د چابهار اقتصادي او ستراتیژیک اهمیت: دا بندر د عمان سمندر په غاړه د ایران یوازینی اقیانوسي بندر دئ چې د هند، افغانستان او منځنۍ اسیا د سوداګرۍ لپاره خورا لوی جیو-اکانومیک ارزښت لري او د ایران د آزادې سوداګرۍ سیمه ده .
طبیعي زیرمې: دا ولایت د مسو، کرومایټ، منګنیز او سرو زرو بډایه کانونو درلودونکي دي.
د اوبو بحران: د هلمند سیند په اوبو د افغانستان او ایران ترمنځ د حقابې جنجالونه او د هامون جهیل وچېدل په مستقیم ډول د دې ولایت په خلکو او کرنه اغېزه کړې ده.
د وسلهوالو او سیاسي خوځښتونو تاریخي مخینه
دا برخه په دریو تاریخي دورو وېشو:
د شاه د دورې مقاومت: د دادشاه بلوځ پاڅون(۱۹۵۷-۱۹۴۶ز) د محمد رضا شاه په وخت کې لومړنی کلاسیک وسلهوال مقاومت پیل کړ. هغه په بلوچي فولکلور کې د شجاعت ملي سمبول ګڼل کېږي.
د ۱۹۷۹ کال له انقلاب وروسته: د خمیني د نظام په راتګ سره، په قومي محرومیت باندې مذهبي محرومیت (سني توب) هم ور اضافه شو. دلته د "شیخ عزالدین حسیني" او "احمد مفتي زاده" په ځېر د سني مشرانو هڅې او د هغوی ځپل د بحث کلیدی ټکی دئ.
له جنداللہ ځخه تر جیش‌العدل پورې: د جنداللہ ډله (۲۰۱۰-۲۰۰۳ز) د عبدالمالک ریګي لخوا په ختیځ سرحد کې چریکی جګړې ځنګه په جیوپولیټیکي نانندریو بدلې کړې. دغه ډلې سلفي افکار لرل. په ۲۰۱۰ز کال کې د ریګي په اعدام سره دا ډله وپاشل شوه.
د جیش العدل تنظیم (۲۰۲۵-۲۰۱۲ز) :د جنداللہ له منځه تلو وروسته د صلاح الدین فاروقي لخوا جوړ شو. هغوی د ایران پر پوځي مراکزو او محکمو خونړي بریدونه وکړل. د ۲۰۲۵ز کال په ډسمبر کې دا ډله له نورو ډلو سره یوځای شوه. هغوی د ولسي مبارزینو نوی محاذ (PFF) تاسیس کړل.
د زاهدان د "خونړۍ جمعې "رپېنې او اهمیت
دا پېښه د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر په ۳۰مه نېټه په زاهدان ښار کې رامنځته شوه.
اصلي علت په چابهار کې د ایراني پولیسو لخوا د یوې بلوځې نجلۍ د بې عفتۍ پر ضد ولسي غبرګون ؤ. خلکو د جمعې له لمانځه وروسته سوله ییز لاریون پیل کړ.
خونړۍ پایله، د ایران رژیم امنیتي ځواکونو پر خلکو نېغ په نېغه ډزې وکړې. په دې ورځ شاوخوا ۹۶ تنه سوله ییز لاریون کوونکي په شهادت ورسېدل.
سیاسي اغېزه، دې پېښې په ایراني بلوچستان کې د ولسي او کلتوري پاڅون روحیه په بې ساري توګه بدله کړه.
د ایراني بلوچستان کلیدی کلتوري او سیاسي ځېرې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مولوي عبدالحميد اسمعيلزهي: د زاهدان د مکي جامع جومات امام او تر ټولو اغېزناک مذهبي او سياسي مشر دئ. هغه د ايراني نظام تر ټولو لوی منتقد دئ او د نړيوالو ناظرينو په شتون کې يې د ريفرنډم (عامه پوښتنې) غوښتنه کړې ده. په ۲۰۲۶ز کال کې يې هم د ايران د خراب اقتصادي وضعيت پر وړاندې توند غبرګونونه وښودل.
محمود بلوچ: د نوي جوړ شوی کلتوري او وسلهوال ايتلاف (PFF) رسمي ويانډ دئ. هغه د وسلې ترځنګ پر "مدني سرغړونې" او سياسي لارو ډېر ټينګار کوي.
د نوي نسل سياسي او کلتوري بيداري
له مذهب څخه د ملتپالنې لور ته کډه :د نوي نسل بلوڅ ځوانان د تېرو مذهبي سختدريځو ډلو پر ځای، اوس خپل تمرکز پر بلوچي کلتور، کلتوري سازمانونو او د ژبې په بڼاينې باندې کوي.
د مجازي فضا (سوشل ميډيا) کارول :ځوانانو د انټرنيټ له لارې د زاهدان او چابهار د ولسونو غړو د تهران تر زړه او نړيوالو سازمانونو پورې ورساوه.
د ښځو تاريخي وندې :د لومړي ځل لپاره په ايراني بلوچستان کې نجوني او ښځې په مدني اعتراضونو کې لومړۍ کرښې ته راوتلې، چې دا په دوديزه بلوچي ټولنه کې يو لوی ټولنيز انقلاب ګڼل کېږي.
په ايراني بلوچستان (سيستان او بلوچستان ولايت) کې، نجونې او ښځې په مدني او ټولنيز ډګر کې د بشري حقونو، د جنسيتي برابرۍ او د قومي او مذهبي تبعيضونو پر ضد د مبارزې مهمې فعالانې دي.
د ايراني بلوچستان د مدني حرکتونو مهمې ځېرې او ځانګړتياوې په لاندې ډول دي:
۱ - د مدني ټولنې مشهورې ځېرې
- فريبا بلوڅ: نومورې يو له ترټولو مشهورو ايراني بلوڅو مدني او د بشري حقونو فعالانو ځخه ده. فريبا، چې دا مهال په لندن کې مېشته ده، په ايراني بلوچستان کې د ښځو د حقونو، د اعدامونو د بندولو او د لږکيو د عدالت لپاره غږ پورته کوي او په ۲۰۲۴ کال کې يې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت لخوا د "نړۍ د زړورو ښځو" جايزه هم ترلاسه کړه.
- فايزه براهوي: يوه ۲۵ کلنه ځوانه بلوڅه نجلۍ ده چې د زاهدان د جمعې د خونړۍ پېښې (Blood Friday) پر مهال او وروسته له هغه په انټرنيټ او سړکونو کې د غږ پورته کولو له امله ونيول شوه او د بلوچستان د ځوانو نجونو د بيداري او مقاومت د يو سمبول په توګه وپېژندل شوه.

۲ - د ايراني بلوڅو ښځو د مبارزې اصلي محورونه
ايراني بلوڅي ښځې په يو وخت کې په څو جبهو کې په مدني ډول مبارزه کوي:
- د دوه ګوني تبعيض پر ضد مبارزه: دوی له يوې خوا د مذهب (سني) او قوميت (بلوڅ) له عمله د ايراني حکومت له مرکزي بې‌عدالتۍ سره مخ دي، او له بلې خوا په خپله سيمه کې له سختو دوديزو او مذهبي زېرو محدوديتونو سره لاس او ګرېوان دي.
- د اجباري ودونو او د پوهنې حق: د نجونو د زده‌کړې لپاره هڅې، د کمکيو نجونو د ودونو (ماشومولۍ ودونه) مخنيوی او د ناموسي تاوتريخوالي مستند کول د دوی د مدني فعاليتونو برخه ده.
- سوله غوښتنه او سياسي غوښتنې: د بلوڅو ښځو مدني حرکتونو تل د جګړې، د پوځي فشارونو او د سياسي بنديانو د اعدامونو خلاف بيانيې خپرې کړې دي او د عادلانه محاکمې غوښتونکي دي.

(يادونه: که څه هم په ګاونډي پاکستاني بلوچستان کې د ډاکټر مهرنګ بلوڅ په ځېر ښځې د ځلکو د لادرکه کېدو پر ضد د لويو لاريونونو مشري کوي، خو په ايراني بلوچستان کې د حکومت د سختو امنيتي بنديزونو له امله مدني فعاليتونه ډېرې وخت په زيرزميني، انټرنيټي يا له هېواده بهر بڼه لري.)
د چابهار د فضايي مرکز اهميت او د پلازمېنې لېږدول
د چابهار ملي فضايي مرکز؛ د سيمې نوی کيدونکي هسک-الوتنه
د سيستان او بلوچستان سويل د مکران په ساحلي سيمه کې يوازې يو سوداګريز بندر نه دئ، بلکې په وروستيو کلونو کې د ايران د ملي فضايي ادې (National Satellite Launch Base) د لومړي فاز په پرانيستلو سره د لوېديځې اسيا په تر ټولو لوی فضايي زړه بدل شوی دئ. د نظامي او علمي جيوپوليټيک د ځېرنو پر بنسټ، د چابهار دا فضايي مرکز حتی د قزاقستان له مشهور مګر په وچه کې بند "بايکانور (Baikonur) "هوايي ډګر څخه د ډېرو ستراتېژيکو ګټو لرونکی دئ. د خلاص سمندر (هند بحر) سره د نږدېوالي او مستقيم پيوستون له امله، له دې ځايه توغول شوي توغندي د سرپناه يا د بل هېواد په خاوره کې د لوېدو هېڅ ګواښ نه رامنځته کوي او په بشپړ خوندېتوب سره پر پرانيستي بحيرې تېرېږي. د دې ترځنګ، ځمکنۍ خط (استوا) ته د دې جغرافيې نږدېوالی د دې لامل کېږي چې درانه ستلايټونه او لېږدونکي راکټونه د ځمکې د جاذبې له کم ځواک څخه په ګټې اخيستنې، په لږ مالي او تخنيکي لګښت

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سره په ځانګړو لمريزو مدارونو کې ځای پر ځای شي؛ يو داسې ځانګړی امتياز چې د بلوچستان خاوره د ايران د فضايي واکمنۍ په زانګو بدلوي.

له تهرانه د مکران ساحل ته د سياسي او اقتصادي پلازمينې لېږدول

د بلوچستان بله بې ساري ستراتيژيکه ورتيا د ايران د واکمنو چارواکو په نوي بنسټيز پلان کې نغښتې ده. د ايران د ولسمشر مسعود پزشکيان په ګډون لوړ پوړو چارواکو په رسمي ډول اعلان کړی چې د پلازمينې تهران د چاپېريال، زلزلې خطرونو، ککړتيا او تر هرڅه ورانديد اوبو د جدي کمښت له عمله، رژيم پرېکړه کړې ترڅو خپل اداري او اقتصادي مرکز د سيستان او بلوچستان جنوبي برخې، يعنې د مکران ساحلي پټۍ او چابهار سيمې ته انتقال کړي. دا پرېکړه د ايران په ستراتيژيک تفکر کې د "ځمکني او په وچه کې بند اقتصاد" څخه د "سمندري اقتصاد" لور ته د تاريخي اوښتون ښکارندويي کوي. له دې کبله، بلوچستان د تهران لپاره نور صرف يو لېرې پروت او بېوزله ايالت نه دئ، بلکې د ايران د جيو-اکانومي، نړيوالې سيالۍ او سياسي بقا محور ګرځېدلی دئ؛ هغه څه چې د دې سيمې برخليک د منځنۍ او سويلي اسيا له راتلونکي ثبات سره نور هم په کلکه تړي.

د دغو دواړو پراګرافونو په منځ کې د پاکستان د "ګوادر" او د ايران د "چابهار" د بندرونو پر جيوپوليټيکي رقابت او په دې لوبه کې د هند او چين پر رول هم يو لنډ بحث ور زيات کړو ترڅو د پښتنو او افغانانو د سوداګرۍ راتلونکي لاره هم روښانه شي!

د پاکستان د ګوادر (Gwadar Port) او د ايران د چابهار (Chabahar Port) بندرونو ترمنځ جيو-ستراتيژيک رقابت، په اصل کې د اسيا د دوو مخکښو قدرتونو، يعنې چين او هند ترمنځ د نفوذ د پراخولو او د نړۍ د تر ټولو سترو اقتصادي دهلېزونو د کنټرول په سر يوه لويه لوبه ده. دا دواړه بندرونه د بلوچستان په ساحلي پټۍ کې په يوازې ۱۷۰ کيلومترۍ فاصله کې موقعيت لري.

د دې رقابت بېلابېل ابعاد، د چين او هند اهداف او تر ټولو وروستي پرمختګونه په لاندې ډول مستند شوي چې د مقالې لپاره يو خورا پياوړی علمي چوکاټ جوړوي:

۱ - د پاکستان ګوادر او د چين ستراتيژيک اهداف

ګوادر بندر د چين او پاکستان د ۶۵ مېلياردۍ ډالري اقتصادي دهلېز (CPEC) په زړه کې واقع دئ چې چينايي شرکتونه يې مديريت کوي.

- له مالاکا تنګي څخه تېښته: د چين د تېلو او سوداګرۍ لويه برخه له بحري لارې د مالاکا تنګي څخه تېرېږي، چې د جګړې پر مهال د امريکا او هند لخوا په اسانۍ بنديدای شي. ګوادر چين ته نېغه داسې لاره ورکوي چې خپل د اړتيا وړ انرژي له خليج څخه د پاکستان له لارې په ځمکنۍ بڼه د کاشغر تر سيمې ورسوي .
- د "ملغلرو د لارۍ "تګلاره : هند پدې باور دئ چې چين د هند د بحر د چاپېرولو لپاره په ګوادر، سرېلانکا (همبنتوټا) او جيبوتي کې د سوداګريزو بندرونو تر ځنګ پوځي اډې جوړوي ترڅو پر هند تېری او کنټرول ولري .

۲ - د ايران چابهار او د هند ځوابي تګلاره

د ګوادر په ځواب کې، هند د ايران په چابهار بندر کې د مېليونونو ډالرو پانګونه کړې ده. د هند لپاره چابهار يوازې يو اقتصادي بندر نه، بلکې د هغوی د "الماسو د غاړکۍ "د ستراتيژيۍ تر ټولو مهم ټکی دئ ترڅو د چين د حضور مخه ونيسي .

- د پاکستان په ځنګ تېرېدل :ځرنګه چې پاکستان هند ته اجازه نه ورکوي چې د هغوی د خاوری له لارې افغانستان او منځنۍ اسيا ته سوداګري وکړي، نو چابهار هند ته نېغه لاره ورکوي ترڅو له سمندري لارې ايران او له هغه ځايه د افغانستان زرنج او نيمروز ته ورسېږي .
- د شمال-جنوب نړيوال ټرانسپورتي کوريډور :(INSTC) چابهار د هند بحر له روسيې او اروپا سره د ايران له لارې نښلوي، چې دا لاره د سويز د کانال په پرتله د لګښت او وخت په برخه کې تر ۴۰٪ پورې ارزانه ده .

۳ - د ۲۰۲۶ز کال تر ټولو وروستي پرمختګونه او چلوتې

- د هند او ايران اوږدمهاله ټرون (۱۰ کلن ټرون) :د کلونو له جنجالونو وروسته، هند او ايران د ۲۰۲۴ز کال په مې مياشت کې يو رسمي ۱۰ کلن ټرون لاسليک کړ چې پر بنسټ يې هند د چابهار د "شهيد بهشتي" ټرمينل اداره او تجهيز په لاس کې واخيست. د ۲۰۲۵ز کال په اګسټ کې هند خپل وروستی مالي تعهد (د ۱۲۰ مېليون ډالرو لېږدول) په پوره توګه خلاص کړ.
- د امريکا د بنديزونو ننګونه: په ايران باندې د امريکا شديد بنديزونه د چابهار د کار د ځنډېدو اصلي لامل دي. امريکا هند ته تر د ۲۰۲۶ز کال د اپريل مياشتې پورې له بنديزونو څخه ځانګړی معافيت ورکړی ؤ،

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځکه واشنګټن پخپله هم غواړي چې د چین د نفوذ د مخنیوي لپاره هند په سیمه کې پاتې شي. مګر د معافیت له ختمېدو وروسته، هند د سیمه ییزو ایراني او محلي برخو په مرسته خپل فعالیت روان ساتلی دئ.

- د سي پیک (CPEC) ماتې او که د چابهار بریا؟ که څه هم ګوادر د چین لخوا په مالي لحاظ خورا پیاوړی ملاتړ لري، مګر د پاکستان د ننه د سختو امنیتي ستونزو او د بلوڅو د چریکي بریدونو په وجه د هغې کار لا هم له خنډونو سره مخ دئ. له بلې خوا، چابهار د منځنۍ اسیا د هېوادونو لپاره د یو باوري سوداګریز پله په توګه د پراخېدو په حال کې دئ .

لنډیز: "ګوادر د چینایي نفوذ مرکز او چابهار د هندي ګټو محور دئ. مګر د جیوپولیټیک لوبې هاخوا، دا دواړه بندرونه د بلوچستان د جغرافیې تاریخي او کلتوري ارزښت په نړیواله کچه ثابتوي".

د دویمې برخې پای
ادامه لری ... (د افغانستان بلوچان)
انجنیر شیر ساپی
د نومبر دریمه ۲۰۲۶
مونیخ/آلمان

آرشیف نویسنده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ